د منلي استولی شعر

۲۰۱۵/۰۸/۱۴

له ولاړ څخه زړه ور زمری په ډار دی

چې سما نیسي سمون ورته په کار دی
ناسم کله کړی تګ پر سمه لار دی

چې په زور دې سموي په زور یې سم کړه
مه کړه ځنډ چې تیرېدونکی دې نن وار دی

په پراته باندې میږی زړه ور تیرېږي
له ولاړ څخه زړه ور زمری په ډار دی

مه ږده پښه ته د لوېدلي پر سر باندې
داسې کار ګوره ولاړ ته شرم عار دی

سمولای که کاږي نه شي منلی
ترپ پر څنګ له کږو هم د سمون چار دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ